Public Disclosure Authorized

Public Disclosure Authorized

68364

# نړیوال بانک په سهیلي آسیا کې

## د افغانستان په عمومي بهیرکې د جندر (ټولنیز جنسیت) د شاملولو د تطبیقی یاددښتونولړی – لومړی ګڼه

## په زده کړوکې د جندر د لا زیاتې برابری په لور



افغانی نجونی په ټولګی کې (سرچینه: د افغانستان اسلامی جمهوریت، د ښووني وزارت، د ښووني د کیفیت د لوړولو پروژه).

## په افغانستان کې د بشری پانګې د کچې لوړول

د افغانستان په عمومي بهیر کې د جندر د شاملولو د یاددښتونو لړۍ د افغانستان د دولت کارکوونکو، د دولت همکارو موسساتو او ادارو او نورو اړوندو خلکو ته چې ټول د دولت د پروګرامونو د جوړولو او پلي کولو دنده پغاړه لري، د روان سکټوري کارونو په اړه یو لړ لاس ته راوړنې او تر ټولو غوره کړنلارو په اړه معلومات ورکوي. د دغه ځانګړي یاددښت موخه د پالیسۍ او پروګرام طرح او ډیزاین باندې اغیزه لرل دي ترڅو د نجونو لپاره د زده کړې فرصتونه زیات شي، په ځانګړي توګه د کلیوالي سیمو په ښوونځیو کې چیرته چې د ښځو لپاره تعلیم ته لاسرسی تر بل هر ځای زیات محدود دی. په افغانستان کې د نجونو لپاره تعلیم ته د لاسرسي نشتوالی د یو لړ خنډونو پایله ده چې لاندې به تشریح شي. پر دغو خنډونو په بحث کولو سره، د پلي کولو یاددښت - به یو لړ سپارښتنې وړاندې کړي چې کیدای شي د نجونو او ښځو لپاره په زده کړو کې د ښه والي د راوستلو په موخه ترې ګټه واخیستل شي.

### شالید

۳۰ کلنې اوږدې جګړې د افغانستان د پوهنې سیستم ویجاړ کړی دی، که څه هم په دې وروستیو کلونو کې د ښوونځي د عمر د ماشومانو لپاره ښوونځیو ته د لاسرسی په اړه د پام وړ پرمختګ شوی دی. خو د پوهنې اوسنی سکټور د یو لړ ننګونو سره مخامخ دی چې له امله یې د نړۍ د نورو هیوادونو په پرتله افغانستان لومړنۍ او منځنۍ زده کړو او همدا راز لوړو زده کړو ته تر ټولو کم لاسرسی لري. که څه هم د پوهنې د وزارت (پ و) احصائیه د ۲۰۰۱ څخه را پدیخوا، ښوونځیو کې د نجونو د نوم لیکنې په کچه کې لوړوالی ښیی، خو بیا هم د ښوونې او روزنې په اړه د جندر نابرابري یوه ستونزه ګڼل کیږي. په ۱۳۸۶ (۲۰۰۷) کې د پوهنې وزارت د ښوونځیو سروې راښیي چې د زده کوونکو څه نا څه دوه پر دریمه برخه هلکان دي، پداسې حال کې چې د ټولنې د ګډون پر بنسټ زده کړې (CBE) چې د غیردولتي موسسو لخوا ترې ملاتړ کیږي له دې څخه مستثنی ګڼل کیږی (پ و۲۰۰۷) (بکس ۱). په ۲۰۰۷ کې، په مجموعي توګه ۳۶۶۷۸۶۲ (۶۴.۶۲ سلنه) هلکانو او ۲۰۰۸۰۸۹ (۳۵.۳۸ سلنه) نجونو په عمومي زده کړو کې نوم لیکنه وکړه. دغه د هلکانو او نجونو 2:1 نسبت په ټول عمومي تعلیم او همدا راز د

**بکس ۱: د ټولنې د ګډون پر بنسټ زده کړی(CBE)**

د CBE ښوونځي په ۱۹۹۰ لسیزې کې مینځ ته راغلل، دا هغه وخت و چې د دولتي ښوونځیو سیسټم له مینځه تللی و، پداسې حال کې چې د طالبانو د واکمنی په وخت کې د نجونو لپاره په کور کې د زده کړو پرته بل هیڅ سیسټم شتون نه درلود. د CBE ښوونځي چې د غیر دولتي موسسو لخوا سمبالیږي، د ټولنو لخوا د لومړنیو ښوونځیو په کچه په مخ بیول کیږي چې پکې د نجونو شمیر له هلکانو څخه زیات دی. د دې لپاره چې په کلیوالو سیمو کې د نجونو په پرتله د هلکانو لپاره ښوونځي ډیر دي، نو CBE اکثراً د نجونو لپاره مینځ ته راځي. که څه هم د پالیسی له مخې، غیر دولتي موسسې باید د CBE ښوونځي د دولتي ښوونځیو څخه لږ تر لږه د ۳ کیلو مترو په واټن کې جوړ کړي، خو ډیرې غیر دولتي موسسې د نجونو د ښوونځیو د نه شتون په دلیل د هلکانو د دولتي ښوونځیو ترڅنګ د نجونو لپاره د CBE ټولګي جوړوي (سیم امانډا. د بریښلیک له لارې مرکه. د ۲۰۰۹ د می ۲۶مه. د نړیوال بانک(ن ب) کارکوونکو د آمانډا سیم، د IRC(د ژغورنې د نړیوالې کمیټې) د ماشومانو او ځوانانو د ساتنې او پراختیا کوارډیناتورې سره د بریښنا لیک له لارې مرکه ترسره کړه)

**جدول ۱: د پوهنې وزارت په ټولو ښوونځیو کې د زون او تعلیم د کټګورۍ په اساس د نارینه او ښځینه زده کوونکو شمیر او سلنه (2007) )**

| تعلیمی زونونه[1] | عمومي ښوونه او روزنه (ټولګي 1-12) | | | اسلامي ښوونه او روزنه (ټولګي 1-14) | | | د ښوونکو ښوونه او روزنه (ټولګي 10-14) | | | لوړې زده کړې (تر لیسانس پورې) | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | ښځینه | نارینه | ٪ ښځینه | ښځینه | نارینه | ٪ ښځینه | ښځینه | نارینه | ٪ ښځینه | ښځینه | نارینه | ٪ ښځینه |
| مرکزي | 508,417 | 898,239 | 36.1 | 2,817 | 24,353 | 10.4 | 2,280 | 3,085 | 42.5 | 5435 | 19992 | 21.4 |
| سهیل ختیځ | 51,054 | 32,766 | 25.9 | 1,015 | 8,360 | 10.8 | 88 | 1,152 | 7.1 | 166 | 2176 | 7.1 |
| سهیل | 4,555 | 295,715 | 13.1 | 243 | 2,071 | 10.5 | 126 | 186 | 40.4 | 1348 | 3974 | 25.3 |
| لویدیځ | 352,735 | 538,960 | 39.6 | 6 | 2,079 | 0.3 | 269 | 667 | 28.7 | 1723 | 3562 | 32.6 |
| شمال | 32,243 | 527,933 | 38.6 | 318 | 8,308 | 3.7 | 943 | 1,043 | 47.5 | 676 | 7966 | 7.8 |
| شمال ختیځ | 380,440 | 558,568 | 40.5 | 1,145 | 14,370 | 7.4 | 1,124 | 1,907 | 37.1 | 376 | 4374 | 7.9 |
| ختیځ | 38,645 | 415,681 | 36.5 | 1,372 | 19,802 | 6.5 | 65 | 1,116 | 5.5 | 78 | 1509 | 4.9 |
| ملي | 2,008,089 | 3,667,862 | 35.4 | 6,916 | 9,343 | 8.0 | 4,895 | 9,156 | 34.8 | 9802 | 43553 | 18.4 |

**سرچینه: د پوهنې وزارت ۲۰۰۷، د لوړو زده کړو وزارت ۲۰۰۹**

ښوونکو په روزنیزو پروګرامونو کې شتون لري (پ و ۲۰۰۷). دغه توپیر بیا په لوړو زده کړو کې لدې هم زیات دی. په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کې ٤۳۵٥۳ (۸۲ سلنه) نارینه زده کوونکي او ۹۸۰۲ (۱۸ سلنه) ښځینه زده کوونکي د هیواد د لوړو زدکړو په ۲۳ ادارو کې شامل شوي دي [د لوړو زد کړو وزارت (ل ز و) ۲۰۰۹]. د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د ښوونځیو په بیلابیلو کچو کې د نجونو د شامیلدو په اړه د پام وړ توپیر شتون لري (جدول ۱). په سهیل، سهیل ختیځ او ختیځو سیمو کې د ښځینه زده کوونکو تر ټولو ټیټه سلنه خو په مرکزي، لویدیځو، او شمال لویدیځو سیمو کې اوچته سلنه شتون لري.[1]

بیوزلي، تعلیم ته نیمګړی لاسرسی او د اړینو مهارتونو نشتوالی ټول د نجونو په وړاندې د لوړ خطر لاملونه ګڼل کیږي چې نجونې د وخت نه مخکې ودونو او همدا راز د ناوړې ګټه اخیستنې د نورو ډولونو د ګواښ سره مخامخ کوي. لوړ کیفیت لرونکی اساسي تعلیم نجونې د کوچنیوالي څخه نیولې تر ځوانۍ او بلوغ ته د رسیدو په دوران کې په داسې پوهې او مهارتونو ښه سمبالوي چې د یوه ښه ژوند د خپلولو، د ناروغۍ نه د ځان د ژغورولو او په ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي پریکړو کې د فعال ګډون لپاره ورته اړین ګڼل کیږي.

د پوهنې وزارت د تعلیم د کیفیت د لوړولو پروګرام (EQUIP) د هر ښوونځي لپاره د ښوونځیو د اداری شورا (SMS) په جوړولو سره، غواړي ترڅو نه یوازې د تعلیم کیفیت لوړ کړي، بلکه غواړي د نجونو د تعلیم په وړاندې د ټولنې چلند هم بدل کړي تر څو ښوونځیو ته د نجونو ورتګ یو استثنایي نه بلکه یو عادي کار وګرځي. کله چې ټولنې د ښوونځیو په اداره کې ګډون وکړي، نو په پایله کې یې ټولنې په خپله د یوه ښه تعلیم لپاره په ګډه هڅه کوي او د خپلو کوچنیانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د زیاتې پاملرنې او تخصیص غوښتنه کوي (ن ب۲۰۰۷). د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې ریاست (TED) له وړاندې نه په ولسوالیو کې د ښوونکو ٤۷ ښوونیز فرعي مرکزونه جوړ کړي دي تر څو ښځینه ښوونکو ته د دوي کورونو یا کلیو ته نژدې روزنه ورکړي.[2] د لوړو زده کړو په کچه، د "لوړو زده کړو د پیاوړي کولو پروګرام ( SHEP)" غواړي تر څو د افغانستان په یو لړ مهمو پوهنتونونو کې بنسټیزه کاري وړتیا بیا اعاده کړي چې دغه کار د نړیوالو پوهنتونونو سره د شراکت او همدا راز پوهنتونونو ته د وړیا مرستو په ورکولو سره ترسره کیږي تر څو نوموړو پوهنتونونو سره د بنسټیزو اداري سیسټمونو او کړنلارو په جوړولو او په اکادمیکو پروګرامونو کې د ښه والي په مینځ ته راوړلو سره، مرسته وشي (د ل ز و ۲۰۰۹).

د افغانستان په تعلیمي سیسټم کې د ښه والي مینځ راوړل د دغه هیواد ملي پراختیا لپاره ډیر اړین ګڼل کیږي. د پوه او ماهرو کارکوونکو د یوې ټولګۍ شتون د اقتصادي پرمختګ د ډاډمن کیدو لپاره ډیر ضروري دی. پر دې برسیره، تعلیم د اوږد مهاله او

1. مرکزی (بامیان، پروان، پنجشیر، کابل، کاپیسا، لوګر، وردک)؛ جنوب ختیځ: (پکتیا، پکتیکا، خوست، غزنی)؛ جنوب: (ارزګان، زابل، قندهار، هلمند)؛ لودیځ: (بادغیس، دایکندی، غور، فراه، نیمروز، هرات)؛ شمال: (بلخ، جوزجان، سرپل، سمنګان، فاریاب)؛ شمال ختیځ: (بدخشان، بغلان، تخار، کندز)؛ ختیځ: (کنر، لغمان، ننګرهار، نورستان).
2. غیر دولتي موسساتو - د ښوونکو د روزنې د ریاست سره د ولسوالۍ په کچه د ښوونکو په روزنه کې مرسته وکړه، چې پر پیداګوژي او د بنسټیزې پوهې په روزنه تمرکز لري ( (1- INSETد محتویاتو په هکله د پوهاوې روزنه ((INSET-II، د نیمګړو تعلیماتو لرونکو د ښځینه ښوونکو روزنه (-Accelerated Learning (AL او نور فعالیتونه.

تلپاتې بدلون ، لکه په جندر کې د برابروالي لپاره ډېر مهم دی.

## د ښځو د تعليم په وړاندې خنډونه

لکه د هر جنګ ځپلي هيواد په څير، په افغانستان کې هم د نارينه وو او ښځو د تعليم په وړاندې ستر خنډونه شتون لري. که تاريخ ته وکتل شي نو افغان کلتور د ښځو تعليم ته لږ ارزښت ورکړی دی او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ښځې په بشپړه توګه له تعليم څخه منع شوې وې. د ۲۰۰۲ څخه را پديخوا، د نور هر وخت په پرتله زيات شمير ښځينه زده کوونکي په ښوونځيو کې شاملې شوي دي. خو بيا هم ستر خنډونه په خپل ځای پاتې دي چې دغه کار په ښوونځيو او په ځانګړي توګه د پوهنې وزارت په ښوونځيو کې د لږ شمير نجونو د شامیلدو لامل ګرځي، چې لاندې به پرې بحث وشي.

### د ښځينه ښوونکو کموالی

په ښوونځيو کې د هلکانو او نجونو د شامیلدو د ميزان ترمينځ د پام وړ توپير- د تعليم په ټولو کچو کې د ښځينه ښوونکو د کم شمير ښکاروندی دی. څيړنې راښيي چې د ښځينه ښوونکو شتون په ښوونځيو کې د نجونو پر شامیلدو او پاتې کيدو ښې اغيزې لري (البته د بيلابيلو ټولنيزو، اقتصادی او کلتوري شرايطو تر مينځ د توپيرونو په پام کې نيولو سره)، که څه هم پدې اړه نور لاملونه لکه د ښوونځي او کور تر مينځ واټن، اړوند نصاب، د درسي توکو شتون او د لاسه تللی وخت، هم شته چې ښوونځيو ته د نجونو پرتګ اغيزې لري (UNESCO 2006). په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کې، د پوهنې وزارت په سيستم کې د ۱۰۹۳۵۵ ښوونکو له جملې څخه يوازې ۲٦،۸۱ سلنه ښځينه ښوونکي وې. په همدې ډول، په ۲۰۰۸ کې، د لوړو زده کړو په کچه يوازې تر ۱۵ سلنه پورې ښځينه زده کوونکي وې. په ډيرو کليوالي سيمو کې، د ښځينه ښوونکو نشتوالی په لومړنيو او منځنيو ښوونځيو کې د نجونو د شامليدو او پاتې کيدو په وړاندې لوی خنډ ګڼل کيږي. په لوړو زده کړو کې د ښځينه زده کوونکو په لږ شمير نوم ليکنه يا شامليدل ، د ښځو د ټولنيز او سياسي بهير څخه د بې برخې کيدو د هغې ستونزې زيږنده ده چې له ډير پخوا په ميراث پاتې ده. د لوړو زده کړو په کچه په جندر کې ناانډولتوب ښه په سترګو کيږي چيرته چې د دوکتورا او ماسټرۍ لرونکو ښځينه ښوونکو شميره يوازې ۱۲ سلنه ده. که څه هم تعليمي پروګرامونه د ښځينه ښوونکو د شمير په زياتوالي ټينګار کوي، بيا هم د هيواد په ډيرو برخو کې د ښځينه ښوونکو په کار ګمارل ډير ستونزمن کار دی.

په ښاري او کليوالي سيمو کې د په شرايطو برابرو ښځينه نوماندو کموالی او په کليوالي يا ليرې پرتو سيمو کې د ښځو د کارکولو لپاره د هڅونی نشتوالی د نجونو د تعليم په وړاندې ستر خنډونه ګڼل کيږي.[3] که څه هم د پوهنې وزارت د ښوونکو د کموالي د ستونزې سره مخ ولايتونو کې د ښوونکو لپاره سيمه ايزې هڅونې معرفي کړي دي، خو له دې سره هم د ښځينه ښوونکو په کار ګمارل يو ستونزمن کار دی، چې لوی لامل يې په کليوالي سيمو کې مخ په زياتيدونکي امنيتي ستونزې دي. پر دې برسيره، د ښوونکو په روزنيزو مرکزونو (TCC) کې د ښځينه زده کوونکو لپاره د ليليو نشتوالی د ښوونې مسلک ته د زياتو ښځينه زده کوونکو د راجلبولو په وړاندې خنډ ګڼل کيږي. اوس مهال، د ښوونکو د ۳۷ روزنيزو مرکزونو له جملې څخه، ۲۰ مرکزونه د ښځو لپاره ليليې نه لري.[4]

### کمزورې فزيکي بنسټيز جوړښتونه

ناکافی سهولتونه هم د ټولو کچو تعليم ته د نجونو د لاسرسي په وړاندې خنډ کيږي. د فزيکي بنسټيزو جوړښتونو په اړه څلور ستونزې شتون لري چې په لاندې ډول پرې رڼا اچول کيږي.

د ښوونځيو څخه واټن. لومړني ښوونځي په کليوالو علاقو کې جوړيږي. که څه هم ښوونځي پداسې موقعيت کې جوړيږي چې نجونې ورته په آسانې لاسرسی لري، خو دا پدې معنی نده چې ګواکې په کليوالي سيمو کې لمړنې زده کړې په کافې اندازه شتون لري، ځکه چې د ټولو فعالو لومړنيو ښوونځيو شمير د ټولو لمړنيو زده کړو د عمر لرونکو نجونو لپاره بسنه نه کوي. منځنې ښوونځۍ يا ليسې د ولسواليو په مرکزونو کې موقعيت لري چې له امله يې له ۱۱ کالو څخه لوړ عمره نجونې بايد، منځنيو ښوونځيو او ليسو ته د ورتګ لپاره زيات واټن ووهي. له همدې امله، نجونې د امنيتي ستونزو، ټرانسپورټ او کلتوري لاملونو له امله د منځنې ښوونځی يا د ليسې په کچه زده کړو څخه پاتې کيږي. دغه لاملونه په لوړو زده کړو کې لاپسې د نجونو د زده کړې څخه د پاتې کيدو لامل ګرځې ځکه دا هغه وخت دی چې نجونې بايد خپله سيمه پريږدي او په ليليو کې ژوند وکړي. تعليمي ودانۍ هم د هغو شاګردانو لپاره چې چمتو دي پوهنتونونو ته داخل شي بسنه نه کوي. د کابل له پوهنتون پرته، د لوړو زده کړو په ادارو کې د ښځو لپاره ليليې (د امنيت، د ښځو لپاره د تشنابونو اوبه او پاکوالي له کبله) په کافې توګه بيا ندي رغول شوي يا فعالی ندي تر څو ښځنيه زده کوونکي پکې واوسيږي.

د ښوونځيو د ودانيو نشتوالی. د تيرو جګړو پر مهال، د پوهنې وزارت پورې اړوند د ډيرو ښوونځيو ودانۍ وسوځيدې يا د جګړه مارو لخوا ونيول شوې او ښوونځي له ودانيو پرته پاتې شول. اوس مهال، ډيرې داسې بيلګې شته چې ښوونځي بايد د نورو

3. شفيق قاری زاده، شخصي مرکه، د ۲۰۰۸ د اګسټ ۱۵ مه. د EQIP لپاره نړيوال بانک د څارنې ماموريت، د ۲۰۰۸ د اګسټ په مياشت کې، د EQUIO د کواردیناټور شفيق قاری زاده او د EQUIPد نورو کارکوونکو مرکه د پوهنې په وزارت کې.

4. د سوسن وردک، بريښنا ليک مرکه، د ۲۰۰۹ د اپريل ۳ مه. احصائيه د ښوونکو د روزنې د رياست رئيسې سوسن وردک لخوا برابره شوه.
5. مهاجر ښوونځي هغه اصطلاح ده چې د پوهنې وزارت لخوا استعماليږي.

ښوونځيو په ودانيو کې د مهاجر ښوونځي په توګه فعاليت وکړي، پداسې حال کې چې دوه ښوونځي (يو د هلکانو او يو د نجونو) په يو وخت کې د يوې ودانۍ څخه د بشپړ وخت لپاره ګټه واخلي.[5] (هر ښوونځي دوه وخته يا لدې زيات وي او له ۴۰۰۰ څخه زيات زده کوونکي لري). ډېر داسې ښوونځي يا ليسې شته چې زده کوونکي يې بلوغ ته رسيدلي وي، او له همدې امله پداسې ښه يوځای زده کړه د کلتور له مخې د منلو وړ نه ده. پداسې مواردو کې نجوني له ښوونځي څخه پاتې کيږي ځکه چې د نومړو ميندې او پلرونه دوې ته په هغو ښوونځيو کې چيرته چې هلکان هم زده کړه کوي د زده کړې اجازه نه ورکوي. د هغو مرکو له مخې چې د EQUIP د څارنې د هئيت لخوا (د ۲۰۰۸ د اګست په مياشت کې) ترسره شوی، په ۲۰۰۸ کې د مزار شريف په يوه ورته ښوونځي کې د ۴۰۰۰ ښځينه زده کوونکو



منبع: وزارت معارف، EQUIP.

له جملې څخه ۳۶۰۰ نجونو د نومړې ستونزې له امله ښوونځی پريښودل.[6] په کابل کې هم د ورته ستونزې له امله د ليسو ۱۰۰ نجونو ښوونځی پريښودل.[7] د پوهنې وزارت هغو ښوونځيو ته چې ودانۍ نلري ويلي دي چې د نويو ودانيو تر جوړيدو پورې دې ودانۍ په کرايه ونيسي. خو دا د حل اغيزمنه لاره نه ده ځکه چې ډېر ښوونځي نشي کولای داسې غټې ودانۍ پيدا کړي چې له ۱۰۰۰ څخه زيات شاګردان پکې ځای شي. پر دې برسيره، د ښوونځيو نيمګړی پرسونل نشي کولای چې له يوې څخه زياتې ودانۍ چې په کرايه نيول کيږي، اداره کړي.[8]

د احاطې ديوالونه. په افغانستان کې د نجونو ډېر ښوونځي د انګړ ديوال نلري چې دا کار هم د نجونو په ښوونځيو کې پر شامليدو، ښوونځي ته پر تګ او د ښوونځي پر بشپړ کولو بده اغيزه لري. د نجونو د ښوونځيو لپاره د انګړ د ديوال شتون نه يوازې د کلتور له مخې يو اړين کار دی، بلکه نجوني د ښوونځي نه د بهر ګواښ څخه هم ژغوري. په ټول هيواد کې، د نجونو د ۱۳۳۷ ښوونځيو له جملې څخه، ۹۳۵ يې د احاطې ديوال نه لري (د پ و ۲۰۰۷ ). د احاطې ديوال ډېر زيات اړين ګڼل کيږي او د دغه ډول ديوالونو نشتوالی د ښځينه وو د تعليم په اړه په يوې سترې ستونزې بدل شوی دی. بيا هم، د پوهنې وزارت بايد په پرله پسې توګه هڅه وکړي او مالي مرسته کوونکي (تمويل کوونکي) قانع کړي ترڅو د نجونو د ښوونځيو د احاطې د ديوالونو د جوړولو لګښت په غاړه واخلي، چې دی کار اکثراً کومه پايله نه ده لرلې او لګښت يې محلي خلکو ته پاتې کيږي. په ډېرو لږو مواردو کې، محلي سرچينې د ښوونځيو د اداري شوراګانو يا SMS لخوا پکار اچول شوي او د نجونو د ليسو د احاطې لپاره ديوالونه جوړ شوي دي.[9]


تشنابونه. د احاطې د ديوال برسيره، د نجونو لپاره د تشنابونو سهولتونه او د اوبو دوامداره رسيدنه په ليسو کې د نجونو د پاتې کيدو لپاره ډېر اړين ګڼل کيږي. دا د ټولنې لپاره د منلو وړ نه ده چې نجوني هغو ښوونځيو ته لاړې شي چې د نجونو لپاره او په ځانګړې توګه هغو نجونو لپاره چې بلوغ ته رسيدلي وي، ځانته تشنابونه ونلري، خو لدې سره بيا هم د نجونو ډېر ښوونځي دا ډول تشنابونه نلري.

## کلتور او د جندر پر بنسټ تبعيض

د هغو نجونو شمير چې ليسې پريږدي د لومړنيو او منځنيو زده کړو د نجونو څخه زيات دی، پداسې حال کې چې په ليسو کې د نجونو د حاضرۍ ميزان د ټيټو کچو د حاضرۍ تر ميزان څخه کمه ده.په افغانستان کې د کورنيو په اړه د څيړنو له مخې، په ټولنې کې د نجونو لپاره د ښوونځيو نشتوالی، ښوونځيو ته واټن، نارينه ښوونکي، په کور کې دندې او کلتوري خنډونه هغه ستر لاملونه دي چې له کبله يې نجوني ښوونځي پريږدي يا په ښوونځيو کې نه شامليږي . د وخت څخه مخکې واده او له کورنۍ څخه تګ هم د دې لامل ګرځي ترڅو د ټول هيواد په کچه کم شمير نجوني خپلې زده کړې بشپړې کړي (Hunte 2005). ټيټ عايد په ښارونو او کليوالي سيمو کې د نجونو د زده کړې په وړاندې يو بل خنډ دی. نيستمنې کورنۍ غواړي چې د نجونو په پرتله د هلکانو لپاره د کتابونو، جامو، او نورو درسي توکو د برابرولو لګښت په غاړه واخلي، ځکه همدا هلکان دي چې په راتلونکي کې به د کورنيو د نفقې د برابرولو مسئوليت ولري. ان تردې چې په پلازمينه کابل کې هم کورنۍ د نجونو لپاره په شخصي پوهنتونو کې د زده کړې لګښت څخه ډډه کوي، پداسې حال کې چې د پورتنې لامل له امله دوي چمتو دي د خپلو زامنو د زده کړې لپاره تر هر ځايه چې امکان لري ولاړ شي تر څو پيسې پور واخلي. که څه هم پدې اړه د پام وړ پرمختګ شوی دی، بيا هم د هلکانو زده کړې ته ترجيح

6. شفيق قاری زاده، شخصي مرکه، د ۲۰۰۸ زيږديز کال د اګسټ ۱۵ مه. د EQUIPکوارډيناټور د نجونو په ښوونځيو کې د زيربناء د مسئلو په اړه ټول معلومات ورکړل.
7. شفيق قاري زاده. بريښنا ليک مرکه. د ۲۰۰۹ زيږديز کال د جنوری ۵ مه. د څارنې او ارزونې کوارډيناټور، فرح ناز او همايون مودي. د پوهنې وزارت د معلوماتو د مديريت سيستم (EMIS) اسناد، احصائيه چې پر ښوونځيو او د ښوونځيو ترڅنګ د بريډونو پوره اړه لري په چاپ شوي کاپي کې شتون لري.
8. شفيق قاري زاده، شخصي مرکه، د ۲۰۰۸ زيږديز کال د اګسټ ۱۵ مه. د EQUIPکوارډيناټور د نجونو په ښوونځيو کې د زيربناء د مسئلو په اړه ټول معلومات ورکړل.

شکل ۱: د سیمو پر اساس د بریدونو شیر او ډولونه




سرچینه: د پوهنې وزارت: د پوهنې وزارت په ادارو بریدونه. دسمبر ۲۰۰۸

ورکول کیږي چې دا کار یو داسي احساس مینځ ته راوړي چې ګواکې نجوني به په راتلونکي کې د میرمنو او میندو په څیر ونډه ولري او له همدې امله تعلیم او زده کړې ته اړتیا نلري. د نجونو لپاره د لومړنیو ښوونځیو په کچه د زده کړې لیوالتیا شته خو چې کله دوئ بلوغ ته ورسیږي نو بیا یوازې په کورنو کې د ښځو د ونډې په اړه د تصور د شتون له آمله دوئ نشي کولای د منځنیو ښوونځیو یا لیسو په کچه زده کړو ته دوام ورکړي.

## پر ښوونځیو او د ښوونځیو پر خوا او شا بریدونه

یو لړ پیښې لکه د ښوونځیو په توګه د استعمال شوي خیمو او ودانیو سوځول، د ښوونځیو ترڅنګ چاودنې، وژنې، انسان تښتونې، او ښوونکو (په ځانګړي توګه ښځینه ښوونکو) ته ګواښونه اوس هم په ټول افغانستان کې ترسره کیږي. پر دې برسیره، ښوونځیو ته د بندیدو ګواښ لیکونه استول کیږي او د پوهنې د وزارت کارکوونکي په کلیوالي سیمو کې د ډول ډول امنیتي خنډونو سره مخامخ کیږي.[10] د پوهنې وزارت د رپوټ له مخې، په ۲۰۰۸ کې په مجموعي توګه پر تعلیمي ادارو باندې ۶۷۰ بریدونه ترسره شوي چې پکې د ښوونځیو سوځول او د ښوونکو او زده کوونکو وژل شامل دي.[11] د ۲۰۰۶ د جنورۍ د میاشتې څخه د ۲۰۰۸ د اپریل تر میاشتې پورې ۱۰۳ ښوونکي، مدیران او د ولسوالي په کچه د پوهنې وزارت کارکوونکي او ۱۱۰ زده کوونکي (د ښوونځي او کور ترمینځ په لاره کې) وژل شوي دي. د UNICEF له مخې، د ښوونځیو د ودانیو او خیمو سوځول تر ټولو زیات پیښیدونکي بریدونه دي، پداسي حال کې چې ښوونځي د راکټونو یا لاسي بمونو تر برید لاندې راوستل هم عادي پیښې دي (پاملرنه ۲۰۰۹).

د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه، په ۱۲ ولایتونو کې ښوونځي د بې امنیتي او ښوونځیو ته څیرمه د بریدونو له امله تړل شوي دي.[12] شکل (۱) په کال ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ کې د ښوونځیو ګرد چاپیر د شوي بریدونو ډولونه او شمیر ښیي. د بریدونو ډولونه په یوې سیمې کې له بلې سیمې څخه توپیر لري، پداسي حال کې چې شمال – ختیځې او ختیځې سیمې په دغه موده کې تر ټولو زیات د پیښو شاهدي وې. په کال ۲۰۰۸ کې، ۶۵۱ ښوونځي وتړل شول چې لدغې جملې څخه ۱۹۵ ښوونځي په هلمند، ۱۶۱ ښوونځي په کندهار او ۱۴۸ په زابل کې وتړل شول. دغه ډول بریدونو ۲۳۴۲۷۲ زده کوونکي یې په کال ۲۰۰۷ کې او ۱۷۳۴۴۳ زده کوونکي یې په کال ۲۰۰۸ کې پرینښودل چې ښوونځي ته لاړ شي.[13] د نجونو ښوونځي د هلکانو د ښوونځیو په پرتله تر زیاتو بریدونو لاندې راغلي دي ځکه چې د دولت ضد ځواکونه تر دې حده د نجونو د زده کړې پرضد دي چې ځینو غیر دولتي موسسو ته یې چې د نجونو د زده کړې څخه ملاتړ کوي، ګواښونه کوي (پاملرنه ۲۰۰۹).

دغه ټول پورتني لاملونه ښوونځیو ته د نجونو له لیږدولو په اړه د ټولنو روحیه زیاته کمزورې کوي. د لوړو زده کړو په کچه، د ښځینه ښوونکو د نشتوالي په پرتله ناکافي امنیت د نجونو ښوونځیو ته پر تګ زیاته ناوړه اغیزه کوي. بې امنیتي د هلکانو په پرتله ښوونځیو ته د نجونو پرتګ زیاته اغیزه کوي. دا چې کورنۍ له وړاندې څخه غواړي له هلکانو زیات نجوني کور کې وساتي، نو د بریدونو دغه ډول ګواښ هغوئ ښوونځیو ته د خپلو لونو د لیږدولو په اړه لاپسې اندیښمن کوي. تر اوسه پورې، یو ولایت هم پدې ندی توانیدلای چې د بریدونو مخه ونیسي (پاملرنه ۲۰۰۹).

## سپارښتنې: په تعلیم کې د جندر حساسو فعالیتونو په اړه

### د ښځینه ښوونکو د شمیر لوړول

**د ښوونې مسلک ته په وده ورکولو سره د ښځینه ښوونکو هڅول:** د ښوونې مسلک د لږې تنخواه او امکاناتو، د پرمختګ د فرصتونو د نشتوالي، د نیمګړې کاري شرایطو او د مخ په کمیدونکي ټولنیز حیثیت له کبله، ځوانو استعداد لرونکو خلکو ته یو زړه راښکونکی مسلک نه ګڼل کیږي. د پوهنې وزارت او مالي مرسته کوونکي باید هغه کسان چې کیدای شي د ښوونکي په څیر ترې کار واخیستل شي و هڅوي ترڅو دغه مسلک خپل کړي چې دغه کار د (الف) د سکالرشپ د پروګرامونو اونورو هڅونو او (ب) د ښځینه ښوونکو لپاره د ښځینه لیلیو د جوړیدو له لارې باید ترسره شي. د پوهنې وزارت د ښوونکو د روزنې ریاست په ۲۵ ولایتونو کې د مخکې نه د ښوونکو په روزنیزو مرکزونو کې ښځینه زده کوونکو لپاره په یوه میاشت کې ۶۰ امریکایي ډالر ورکوي، خو لا نده

9. Ibid
10. د پوهنې وزارت د معلومات د اداري سیستم (EMIS) مسئول هغه احصائیه برابروي چې په چاپ شوي بڼه یې ساتي.
11. Ibid
12. شفیق قاري زاده، شخصي مرکه، د ۲۰۰۸ زیږدیز کال د اګست ۱۵ مه
13. Ibid

**بکس ۲: په بنګله دیش کې د Promote په نوم پروګرام**

د بنګله دیش په کلیوالي منځنیو ښوونځیو کې د ښځینه ښوونکو د تشویق، روزنې او په کار ګمارنې پروګرام (PROMOTE) (۱۹۹۵څخه تر ۲۰۰۵ پورې) په کلیوالي سیمو کې د لیلیو، د روزنیزو سهولتونو د پراختیا او د هڅونو له لارې (چې پکې په کلیوالي سیمو کې د ښځینه کارکوونکو لپاره د اوسیدو خوندي کور او په کلیوالي سیمو کې ښځو سره د کار په پیدا کولو کې مرسته شامله ده) زیاتې ښځینه ښوونکې یې وهڅولې چې په کلیوالي سیمو کې کار وکړي تر څو پدې کار سره د بنګله دیش په کلیوالي سیمو کې د ښځو په مینځ کې د ښوونکې مسلک په زړه پورې وګرځوي. په بنګله دیش کې د سیمه ایزو خلکو روزنه د ښځینه ښوونکو د استخدام، روزنې او ملاتړ یو له ترټولو مشهورو پروګرامونو څخه ده او په کلیوالي سیمو کې یې په ښوونځیو کې د نجونو د شاملیدو کچه ډیره لوړه کړې ده. د PRMOTE د پروګرام له لارې، ښځینه زده کوونکې هڅول کیږي ترڅو تر لیسانس پورې ، په ریاضي، ساینس او انګریزۍ کې د مثبتو پایلو لپاره اختصاصی زده کړی وکړي (Grontmij-Carlbro 2005)

جوته چې آیا دغه کار نورې زده کوونکې د ښوونې مسلک ته هڅولې دي که نه. که چیرته هڅولې یې وي، نو پکار ده چې په پاتې ولایتونو کې ورته کړنلاره هم پلې شي. که څه هم د پوهنې وزارت د ښځینه ښوونکو د شمیر د لوړولو په موخه یو لړ ګامونه اخیستي دي او قصد لري چې په راتلونکې کې د ښوونکو پر کیفیت باندې به هم تمرکز وکړي، خو په یو وخت کې د ښځینه ښوونکو شمیر او کیفیت دواړه په پام کې نیول به زیات اغیزمن کار کوي.

پداسې حال کې چې آخرنۍ موخه د ښځینه ښوونکو د وړتیا د کچې لوړول او د هغو په شمیر کې زیاتوالی دی، د ستونزې د حل مینځ مهالې لارې باید دا خبره ډاډمنه کړي چې کوچنیان په اوس مهال کې د تعلیم د فرصتونو څخه بې برخې نه پاتې کیږي. د یو لنډ مهال ګام په توګه، د پوهنې وزارت باید د ښوونکو د روزنې د ودی یا ( PROMOTE) بیلګه تکرار کړي چې پکې له سیمې څخه په کار ګمارل شوي ښوونکو ته د ټول کار په اوږدو کې یو لړ روزنې ورکول کیږي او ورسره د درسي صنف پر اساس مرسته کیږي (بکس ۳). ددې لپاره چې په کلیوالو سیمو کې د ښوونکو د کموالي ستونزه کمه شي، د پوهنې وزارت او همکاران یې باید د ټولنیزو زده کړو (CBE) پر اساس روزل شوي ښوونکي د پوهنې وزارت د استحقاق په نوملړ کې وساتي او ددغو ښوونکو د سویې پر لوړولو تمرکز وکړي. د پوهنې وزارت باید هڅونې لاپسې پیاوړې کړي ترڅو د ښوونې مسلک تعقیب او زیات شمیر ښځینه زده کوونکې د ښوونې د دندو لپاره وهڅوي. د کلتور له مخې، د ښوونې دنده د ښځو لپاره په ټول افغانستان کې د منلو وړ دنده ده. د مناسبې پالیسۍ او ستراتیژیو په لرلو سره، دولت کولای شي په کلیوالو سیمو کې هم خلک دغه مسلک ته وهڅوي. ددې لپاره چې د ښوونکو ساتنه ډاډمن وګرځي، هڅه وشي ترڅو ښځینه ښوونکي د خپلو هستوګنې له سیمو څخه په کار وګمارلې شي. د استخدام، په کار ګمارلو او تبدیلۍ په وخت کې ښځه او خاوند دواړه په یو ځای کې ځای په ځای کیدای شي، یا د نارینه ښوونکو میرمنې کیدای شي د ښوونکو د مرستیالانو په څیر وروزل شي. پر بهرني مرستو د افغانستان اتکاء او د پوهنې وزارت عادي او پراختیایي بودجې په پام کې نیولو سره، دغه سپارښتنې کیدای شي د مالي سرچینو له پلوه تلپاتې و نه ګڼل شي، خو د تمویل کوونکو په مرسته د افغانستان دولت به ډیر ژر یا څه وخت پس پدې مجبور شي چې په ملي بودجه کې د پوهنې او د لوړو زده کړو وزارتونو سهمیه زیاته کړي تر څو د تعلیم د ښو پایلو موخه تر لاسه کړي. د اوږدمهالي پانګه اچونې څخه پرته، د عمومي او لوړو زده کړو سیستمونه به ونشي کولای مخ په وده کوونکي اقتصاد کې د انساني پانګې اړتیاوې پوره کړي.

**بکس ۳: په نیپال کې لیلیو ته د غذا ورکونې پروګرام (FHP)**

له ۱۹۷۵ څخه تر ۲۰۰٦ پورې نجونو لپاره د خواړو او استوګنې د سهولتونو په برابرولو سره د نجونو زده کړې او تعلیم ته یې د پام وړ وده ورکړې ده، چې نوموړې نجونې وروسته منځنې ښوونځیو کې شاملې شوې ترڅو خپله علمي سویه اوچته کړي (بیستا ۲۰۰٦). د FHP د پروګرام تر ټولو مهم اصل دا وو چې هغو نجونو ته منځنې زده کړې او ۱۰ میاشتنۍ روزنې برابرې کړي چې ترې طمع وه چه د زده کړې او روزنې د بشپړیدو څخه وروسته به خپلو کلیو ته راستنې شي او د ښوونکو په توګه به کار وکړي.

**بکس ٤ : د بلوچستان د لومړنیو زده کړو پروګرام، پاکستان**

د نړیوال بانک لخوا د بلوچستان د لومړنیو زده کړو پروګرام له کبله د ښځینه ښوونکو شمیر زیات او په کلیو کې د نوي ښوونځیو سره په ښوونځیو کې د نجونو د نوم لیکنې کچه د 80 څخه تر 100 سلنه لوړه شوې ده. ددغه پروګرام په ترڅ کې، له کلي څخه هغه ښځې چې د ښوونکو په توګه ترې کار اخیستل کیدای شي، د میندو او پلرونولخوا د تعلیم په نوې جوړې شوې کمیټه کې ګمارل کیږي. همدارنګه ددغه پروګرام په ترڅ کې، نجونو ته په کلیو کې د روزنې ګرځنده پروګرامونه برابریږي. له فراغت وروسته، ښوونکې د دولت د کارکوونکي په څیر کار کوي او په هماغه ښوونځي کې د ښوونکي په توګه ګمارل کیږي چې د کلي د تعلیمي کمیټې لخوا جوړ شوی دی او نوموړې یې مسئولیت درلود (د ن ب انستیتیوت ۱۹۹۶)

**د ټولنې په کچه د استخدام یو ښه کمپاین په لار اچول:** دغه ډول کمپاینونه به پر ښځو په ځانګړې توګه تمرکز ولري او د دوي فعاله ونډه به چې په تعلیم کې یې لوبولی شي، زیاته کړي. کمپاینونه باید هغه زده کوونکي چې لیسې پریږدي او همدا راز په ټولنه کې زړې ښځې او د اړتیا په وخت کې قومي لړه کې چې محلي ژبې استعمالوي، تر خپل هدف لاندې ونیسي. د

ټولنې په کچه استخدام، کیداې شي د کلیو د پراختیایي شوراګانو او د ښوونځیو د اداراي شوراګانو یا SMS لخوا ترسره شي ځکه دوئ د ټولنې په هکله له نورو زیات معلومات لري او پوهیږي چې کوم کسان کولای شي د ښځینه ښوونکو په استخدام کې اغیزه ولري. په اکثرو ښوونځیو کې د ښوونځیو اداری شوراګانی د محل په کچه د سرچینو په کار اچولو او د نجونو د تعلیم په رواجولو کې تر اوسه اغیزناکی ثابتې شوې دي. ټولنو ته د پراختیایي شوراګانو پراخ لاسرسی به خلکو سره ښوونځیو ته لاسرسی کې مرسته وکړي. پر ټولنو باید لازم وګرځول شي تر څو د هر نارینه ښوونکي لپاره چې په محل کې په ګوته کیږي باید یوه ښځینه ښوونکې هم په ګوته کړي ځکه چې د مرکزیت پر بنسټ استخدام د ښوونکو نا متوازن ویش مینځ ته راوړي او کلیوالي سیمې د ښځینه ښوونکو د کموالي سره مخامخ کوي (بکس ٤)

د محلي ښوونکو د تشخیص په موخه، د پوهنې وزارت باید په ټولنو کې د زړو ښځو څخه کار واخلي، ځکه چې ټولنیز او کلتوري نورمونه دغو ښځو ته له نورو څخه په ټولنه کې د ګرځیدو زیاته اجازه ورکوي (بکس ٥). د زیات عمر لرونکي ښځې (د بیلګې په توګه د کلیوالي پراختیایي شوراګانو غړي یا د ښوونځیو د اداری شوراګانو ښځینه غړي) کیدای شي وهڅول شي ترڅو د نجونو د تعلیم د مدافعینو په څیر کار وکړي ځکه دوي د پراخې ګرځیدنې را ګرځیدنې چې دغه ډول دفاع لپاره اړین ګڼل کیږي، اجازه لري، پداسې حال کې چې ځواني ښځې چې په ټولنه کې په محدوده توګه ګرځې را ګرځي کیدای شي د ښوونکو په توګه وروزل شي. پداسې حال کې چې د درسي خونو د مرستیالانو په څیر د زړو ښځو د ګډون تمویل به یوه مسئله وي، د پوهنې وزارت کولای شي د ټولنیزو کارکوونکو سره د رضاکارانو په څیر د دغو زړو ښځو په استخدام کې تر هغه مرسته وکړي تر څو د نوموړو کارکوونکو ظرفیت لوړ شي او په دې وتوانیږي چې د دولت د استحقاق په جدول کې شاملې شي.

**بکس ٥: په سیرا لیون او ګینیا (Guinea) کې صنفي مرستیالان**

په سیرالیون او ګینیا کې، هغه ښځې چې تعلیمي کچه یې د هغه څخه ټیټه وي چې د ښوونکو لپاره پکار ده، د صنفي مرستیالانو په توګه ګمارل کیږي. د ښوونکو سره د مرستیالانو په څیر په کار کولو سره دوئ کولای شي خپلې زده کړې بشپړې کړي او لازمي روزنې ترلاسه کړي ترڅو وکولای شي د ښوونکو په توګه کار وکړي. د ښوونکو په توګه د روزنې د اخیستو برسیره، د ٤ څخه تر ١٢ ټولګي پورې صنفي مرستیالان کولای شي چې د نجونو د ساتنې لپاره توظیفي شي او کورنیو سره کار وکړي او د نجونو د زده کړې د ارزښت په هکله هغوئ پوه کړي. که چیرته یوه نجلۍ د څه وخت لپاره په پرله پسې توګه ښوونځي ته رانشي، نو صنفي مرستیاله دنده لري چې د نوموړې کورنی ته لاړه شي او مور او پلار یې و هڅوي ترڅو هغه پرېږدي چې ښوونځي ته لاړه شي. په سیرالیون او ګینیا کې، صنفي مرستیالانو د کورنیو په هڅولو کې چې مخکې له وخته ودونه باید وځنډوي، هم ښې اغیزې لرلي دي (Jones 2006)

## د فزیکي بنسټیزو جوړښتونو ښه کول

**د نجونو د ښوونځیو د ودانیو جوړونې ته د لمړیتوب حق ورکړئ.** د ښوونځیو د ودانیو په جوړولو کې د احاطې د دیوالونو او تشنابونو شاملول ځانګړی ارزښت لري ځکه دا کار په ښوونځیو کې د نجونو پر شاملیدلو او پاتې کیدلو باندې مثبته اغیزه لري. د پوهنې وزارت د فزیکي بنسټیز جوړښتونو په اړه اوسنی کړنلاره د ښوونځو په جوړونې کې د ټولنو پر ګډون او په پریکړو کې پر برخه اخیستو ټینګار کوي. پدې اړه د کلیوالي ښوونځیو پر جوړونې (چیرته چې د نورو سیمو په پرتله لږ ودانی شتون لري) زیات ټینګار کیږي چې د لګښت له پلوه به اقتصادي اغیزمنو ډیزاینونو او محلي توکو څخه په ګټه اخیستنې سره ترسره کیږي. د اقتصادي ډیزاین په اړه د پوهنې وزارت لارښوونې هم د احاطې د دیوالونو پر جوړلو، په ځانګړې توګه د نجونو ښوونځو لپاره تر څو پرده او امنیت خوندي شي، د خونو د شمیر پربنسټ پر تشنابونو او د څښاک د پاکو اوبو لپاره پر لاسي بمبه ټینګار کوي. دغه لارښوونې به د ودانیو په دوام او په عمومي توګه په خلکو کې د ودانیو د څښتنتوب د حس په مینځ ته راوړلو کې مرسته وکړي، خو دا داسې ځانګړي ګامونه نه دي چې ښوونځي به د جندر په وړاندې زیات حساس کړي. مالي مرسته کوونکي باید د نجونو د ښوونځیو لپاره د احاطې د دیوالونو په ارزښت پوه شي او د تمویل کوونکو په مالي لګښت د ښوونځیو د جوړونې د پروګرام په ترڅ کې باید ددغو دیوالونو د جوړنې لګښت په غاړه واخلي.

همدا راز د پوهنې وزارت کولای شي چې د امکان په صورت کې د احاطې د دیوالونو، تشنابونو او د اوبو رسونې د سیستمونو د جوړونې لپاره خلک و هڅوي. دغه کار له مخکې نه په ځینو ښوونځیو کې، چیرته چې خلکو نه یوازې د احاطې د دیوالونو د جوړونې بلکه د ساتونکو د خونو او همدا راز ښوونځیو (د نجونو لومړني ښوونځیو) لپاره د ساتونکو د ورکولو دنده هم په غاړه اخیستې ده، په پراخه کچه شتون لري.[14] د ښوونځیو ځینو اداري شوراګانو محلي کاروباریان هڅولي دي چې د ښوونځیو لپاره ودانی یا د اوبو او پاکوالي آسانتیاوې جوړې کړي. که څه هم د پوهنې وزارت اوسنې امکانات د ښوونځیو او کلیو تر مینځ واټن په پام کې نیسي، خو د ښځینه زده کوونکو لپاره د ټرانسپورټ برابرول به له کلیو څخه بهر ښوونځیو کې د نجونو د حاضرئ د کچې د لوړولو لپاره یو اړین او مناسب ګام وي. خو د واقعیتونو په پام کې نیولو سره به دا یو عملي اقدام نه وي ځکه په اوسنیو امنیتي شرایطو کې د نجونو د سپرلۍ موټر کیدای شي د حمله کوونکو لخوا په آسانی سره تر هدف لاندې ونیول شي. نو له همدې کبله، د پوهنې وزارت او پلي کوونکي همکاران ئي باید ښوونځي د نجونو کلیو ته تر کومه بریده چې شونې وی نږدې موقعیتونو کې جوړ کړي ترڅو په ښوونځیو کې د نجونو شمیر لوړ شي. اوس هم په افغانستان کې د نجونو د ښوونځیو په پرتله د هلکانو ښوونځیو شمیر

14. د شفیق قاریزاده، مصاحبهٔ خصوصی، دآګست 15– 2008. د محمد هاشم برات د نجونو د ښوونځي د مدیر د مرکې له مخې چه د EQUIP د څارنې د ټیم له خوا ور سره تر سره شوی ده . دغه موضوع اصلا په نوموړی ښوونځی پورې اړه لرله.

**بکس ٦: د کمبوديا د سکالرشپ پروګرام**

په کمبوديا کې، د نيستۍ او بيوزلۍ د له مينځه وړلو لپاره د جاپان د سکالرشپ د پروګرام صندوق په منځني ښوونځيو کې د نجونو پر شامليدو او پاتې کيدو د پام وړ اغيزه لرلې ده. کورنيو ته نقدي پيسې پدې شرط ليږدول کيږي چې لونې يې په ښوونځيو کې شاملې شي، ښې نمرې واخلي، او په کال کې له لسو ورځو څخه کم ناسوب وي او هغه هم د يوه ښه دليل پربنسټ (فيلمر او ساچډي ٢٠٠٦).

زيات دی او د پوهنې وزارت بايد دغه نانډولتوب له مينځه يوسي.

**تر ټولو غوره کړنلارو سره شريکول.** د ولايت په کچه د پوهنې رياستونه (PED) او د ولسوالۍ په کچه د پوهنې مديريتونه بايد د ټولنيزو نوښتونو اړوندې هغه ښې کړنلارې چې د احاطې د ديوالونو او د اوبو او پاکوالي د آسانتياوو پورې اړه لري د نورو ښوونځيو يا د ښوونځيو د اداري شوراګانو سره شريکې کړي ترڅو هغوئ هم نومورې کړنلارې په نورو سيمو کې پلې کړي. ښوونځي کولای شي ترټولو ښې کړنلارې د پوهنې د ولايتي رياستونو يا د ولسوالۍ په مديريتونو کې د دوه مياشتنۍ غونډو له لارې سره شريکې کړي.

**بکس ٧: په مکسيکو کې PROGRESA**

د ١٩٩٦ څخه راپديخوا، د مکسيکو د PROGRESA پروګرام د کورنيو سره ښوونځيو ته د ماشومانو د ليږلو په شرط مالي مرستې برابرې کړې دي، چې د دغه کار په پايله کې ښوونځيو کې د نجونو په شامليدو کې ١٤،٨ سلنه زياتوالی مينځ ته راغی. ددغه پروګرام د کاميابۍ له کبله، د مکسيکو حکومت پريکړه کړې ده تر څو نومورې پروګرام ته دوام ورکړي او ورته پراختيا وبخښي، او ورته پروګرامونه اوس د لاتين امريکا په نورو سيمو کې هم معرفي کيږي. د حق الزحمو پروګرامونو هم په بنګله ديش کې په منځني ښوونځيو او ليسو کې د نجونو پاتې کيدو کې زياتوالی منځ ته راوړی دی (د نفوس شورا ٢٠٠٥: Tietjen ٢٠٠٣).

## د جندر په اړه د تبعيض کمول او له منځه وړل

**په شرايطو برابرو ښځينه زده کوونکو شمير لوړ کړئ. يو لړ امکانات لکه** له بورس، يونيفورم، قرطاسيه او د غرمې ډوډۍ بايد په پام کې ونيول شي ترڅو نجونې و هڅولې شي چې ښوونځي ته ولاړې شي او ورته دوام ورکړي (بکس ٦). خو پدې اړه بايد ډاډ حاصل شي چې نجونې ښوونځيو ته يوازې ددغو هڅونو لپاره نه ځي، په ښوونځيو کې د هغوئ حاضري او د ښوونځيو بشپړول بايد هغو هڅونو پورې وتړل شي چې د يو لړ ارزښتناکو ګامونو سره ورکول کيږي ترڅو په عين وخت کې هم د تعليم ارزښت لوړ کړي او هم د تعليم د لاس ته راوړلو په بدل کې زده کوونکو ته څه ورکړي. په ځانګړي توګه، خصوصي روزنيز سهولتونه د ښځينه زده کوونکو لپاره ليرې پرتو سيمو ته وغځول شي ترڅو هغوئ وهڅول شي چې خپل تعليم ته دوام ورکړي او په همدې لړ کې خپلې لاسته راوړنې لاپسې پياوړې کړي. د لوړو زده کړو په کچه، د ډله ايزو سکالرشپونو برابرول به کورنۍ وهڅوي چې خپلو لوڼو ته اجازه ورکړي ترڅو د ليسو څخه وروسته خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او په ليليو کې واوسيږي. د ډله ايزو سکالرشپونو ګټه داده چې کورنۍ به د لوړو زده کړو په موخه په لويو ښارونو کې ليليو او حتې بهر ته د خپلو لوڼو د ليږلو په اړه په سيمه کې د خلکو د خبرو او پروپاګندونو څه انديښنه ونلري (بکس 7).

د افغانستان حالت په پام کې نيولو سره، کورنيو ته د پيسو ليږدول يو ګټور کار دی ځکه چې کورنۍ د خپلو لوڼو د ښوونځي د لګښت او جامو توان نلري او همدا د نجونو د تعليم په وړاندې يو خنډ دی (Hunte٢٠٠٥ ). دغه ډول پروګرامونه هم کولای شي په ښوونځيو کې د نجونو د زده کړو په بشپړتيا کې مرسته وکړي. خو د شرط پر بنسټ د ليږلو په اړه يوه اتکل شوې ستونزه داده چې د پروګرام اداره کوونکي به و نشي کولای چې خلک په عملي توګه د شرط پابند وګرځوي. همدارنګه دغه پروګرامونه به د پوهنې وزارت لپاره چې په بهرنيو مرستو اتکاء لري په لوړه بيه تمام شي. د پيسو ليږدول يو لنډ مهاله کار دی چې بايد ورسره نور منځ مهاله او اوږد مهاله کارونه هم ترسره شي لکه د نجونو د زده کړې د ارزښت په اړه د خلکو د پوهې د کچې لوړول، او د هغو کورنيو په ګوته کول چې خپلو لوڼو ته د زده کړې اجازه ورکوي تر څو دوي نورو ته يوه بېلګه وګرځي. په لمې کچه، د ټولنې په کچه د اجتماعي تغير په اړه دقيقه څيړنه ترسره شي ترڅو د خلکو چلند څرګند او داسې يو چوکاټ جوړ شي چې د پوهنې وزارت وتوانيږی ترڅو لومړی معلوم کړي چې د ټولنې په کچه چال چلند کې بدلون د نجونو په زده کړې او تعليم باندې څه اغيزه لري، او بيا پر بنسټ يې پروګرامونه جوړ کړي.

پردې سربيره، د ښوونځيو په وختونو کې بدلون به کليوالو نجونو ته موقع ورکړي ترڅو ښوونځيو ته هم لاړې شي او په عين وخت کې د کور کارونه هم ترسره کړي. په ځينو شرايطو کې د ښوونځي د درسي ساعتونوپه وخت کې کوچنيانو څخه پاملرنې هم په ښوونځي کې د نجونو د شامليدو او پاتې کيدو کچه د لګښتونو د زياتولو پرته لوړه کړې ده ( Tietjen ٢٠٠٣). په افغانستان کې، د ښوونځيو بدلون موندونکي وختونه په ټولنيزو زده کړو يا تعليم (CBE) کې ښې پايلې لرلې دي، چې په مټ يې هغه کسان (لکه کار کوونکي کوچنيان) چې نه يې شو کولای په نورمال ډول ښوونځي ته لاړ شي اوس کولای شي دغه کار

وکړي. د افغانستان په نورو شرايطو کې ددغه ډول پروګرامونو اغيزه بايد د يو لړ راتلونکو څېړنو له لارې تثبيت شي.

**په خلکو کې د پوهې د کچې د لوړولو په موخه د فعاليتونو غځول.** ملاتړ کوونکي مور او پلار بايد د نجونو د تعليم د سيمه ايزو مدافعينو په څير کار وکړي. د کليو د پراختيايي شوراګانو او د SMS يا د ښوونځيو اداري شوراګانو ښځينه غړي بايد د ټولنيز تحليل، چټکي ارزونې او د مشارکت د اړوندو تخنيکونو په اړه وروزل شي ترڅو د نجونو د تعليم د اهميت او ګټو په اړه د خلکو د پوهې کچه لوړه کړي. د کليو امامان او ديني مشران هم کيدای شي د اسلامي شريعت له مخې د نجونو د تعليم د ارزښت د پيغامونو په رسولو کې ګټور تمام شي. پر دې برسيره، په ټولنه کې د ميندو او پلرونو او په ځانګړي توګه د ميندو لپاره د غټانو د تعليم او د عايداتي فرصتونو د تشويق په موخه يو لړ ګامونه بايد واخيستل شي، تر څو په خلکو کې د خپلو لوڼو د تعليم په اړه ليوالتيا زياته شي.

## پر ښوونځيو او د ښوونځيو ترڅنګ د بريدونو څخه مخنيوی

د ښوونځيو په ساتنه کې د ټولنې ګډون ته لاره هوارول. په ځينو سيمو کې ټولنې له مخکې نه ښوونځيو (په ځانګړي توګه د نجونو ښوونځيو) ته ساتونکي او د ساتونکو لپاره آسانتياوې برابرې کړې دي. پر دې برسيره، د افغانستان په ځينو برخو کې (د بيلګې په توګه د غور په ولايت کې) د ښوونځيو د اداري شوراګانو لخوا ښوونځي ته د زده کوونکو د تګ په وخت کې د نومړو د ساتنې لپاره ساتونکي ليږي، دغه ګامونه کيدای شي د ښوونځيو د ساتنې لپاره د ټولنې د ګډون په اړه د تجربو او زده کړو او همدا راز د ترټولو غوره کړنلارو پکار اچولو او نومړې زده کړې ټولو ټولنو ته د رسولو له لارې، لاپسې پياوړي شي. يوه د حل لاره به دا وي چې د پوهنې وزارت امنيتي شوراګانې جوړې او د ښوونځيو د اداري شوراګانو او نورو ټولنيزو ادارو سره يې وتړي، خو پدې اړه بايد ټينګار وشي چې ټولنې د ښوونځيو د امنيت لپاره بايد په وسلو سمبال نشي.

د بريد کوونکو سره خبرې اترې او روغه جوړه کول. څرنګه چې د پاملرنې د موسسې د ۲۰۰۹ رپوټ ورته اشاره کوي، خبرې اترې کولای شي پر تعليم د بريدونو مخه ونيسي. خو پدې اړه ستراتيژۍ او لارښوونې بايد جوړې شي ترڅو د بريد کوونکو سره روغه جوړه د جندر د برابرۍ يا د نورو انساني حقوقو په بيه تمام نشي (لکه په ځينو جنوبي ولايتونو کې، چيرته چې ټولنې او د پوهنې وزارت محلي مامورين د طالبانو غوښتنو ته په غاړه ايښودو سره ښوونځي د مدرسو په نوم او ښوونکي د ملايانو په نوم يادوي او د ښوونځيو د امنيت په بدل کې نصاب بدلوي). پدې اړه بايد د هغو غير دولتي موسسو د تجربو څخه بايد ګټه واخيستل شي چې د طالبانو د واکمنۍ لاندې يې د نجونو ښووونځي جوړ کړل، ځينو غير دولتي موسسو د طالبانو سره يوې روغې جوړې ته ورسيدل چې طالبان به د نجونو د ښوونځيو جوړولو ته اجازه ورکړي خو پدې شرط چې نومړې موسسې به په خپل هغه بې طرف دريځ چې د نيستمنو خلکو سره مرسته کول دي، ولاړ پاتې وي.[15] د ښوونځيو د امنيت په اړه د خلکو د پوهې د کچې لوړول هم يو ګټور کار دی. د ګواښونو څخه څارنه او د محلي ټولنو چمتو کول ترڅو بريد کوونکو سره د وسلې د استعمال پرته مقابله وکړي او د بريد کوونکو څخه پټ په کلي کې دننه کورونو کې صنفونه جوړول د يو لړ بديلو کړنلارو څخه شميرل کيږي چې د پوهنې وزارت پرې کار کوي.

محلي مالکيت منځ ته راوړل او د خطر کمول. د پوهنې وزارت او په ولايتونو کې د پوهنې رياستونه د خپلو هغو هڅو په لړ کې چې د محلي ښوونکو د وړوتيا د لوړولو په موخه پکار اچوي، بايد د محلي کارکوونکو په استخدام کې مرسته وکړي چې د نومړو څخه به د ښوونځيو په اداره کې د خطر د کمولو د ميکانيزم په څير هم کار واخيستل شي. که څه هم دغه کار به پر تعليمي ادارو د بريدونو د مخنيوي لپاره تل اغيزناک نه وي، خو بيا هم په محلي خلکو کې د نجونو د تعليم په منلو کې مرسته کوي او د جندر سيمې، عمر، قوم او اقتصادي حيثيت پر بنسټ د توپيرونو د له مينځه وړلو له لارې په تعليم کې برابرۍ زياتوي. پر دې برسيره، د محلي خلکو په کار ګومارل به هغه کلتوري حساسې ګټورې کړنلارې بشپړې کړي چې موخه يې په ښوونځيو کې د نجونو شامليدل او پاتې کيدل دي.

## ماخذونه:


1. بيستا. ايم. ۲۰۰٦. په کتمنډو، نيپال کې د ښځينه ښوونکو حالت: د ملګرو ملتونو تعليمې، علمي او کلتوري اداره. (http://unesdoc.unesco.org/images/0014/001461/146116e.pdf, accessed June20, 2008)
2. پاملرنه ۲۰۰۹. نالج آن فاير: په افغانستان کې پر تعليم د بريدونو د رپوټ مسوده. پاملرنه او CoAR د نړيوال بانک په استازيتوب
3. فيلمر، ډي او اين، سچډي، ۲۰۰٦. نجوني په ښونځيو کي شاملول: په کمبوديا کې د سکالرشپ د پروګرام بيلګه. د اغيزې د ارزونې لومړنی سلسله: د نړيوال بانک د د څيړنې سند ۳۹۱۰. واشنګټن ډي سي:
4. ګرونتميج کارلبرو ۲۰۰٥. بنګله ديش، PROMOTE: په کليوالو منځني ښوونځيو کې ښځينه ښوونکي.


15. د پاملرنې موسسې په دې اړه له يو لړ بيلګو څخه يوه بيلګه وړاندې کوی چه په ترڅ کی يې د پاملرنې د موسسې ستر اجرائيوی افسرد طالبانو د ځينو غړو سره وکتل او د ټولنيزو لومړنيو ښوونځيو د جوړولو په اړه ورسره موافقې ته ورسيد.

(http://www.grontmij-carlbro.com/en/Menu/References/ManagementAndDevelopment/EducationAndTraining/PROMOTE_PhasesI_II_Bangladesh80414501.htm, accessed September 25, 2008).

5. هیونټ، پامیلا. ۲۰۰۵. قضیه ۱: د کابل ولایت د چهار آسیاب ولسوالی. په افغانستان کې کورنی پریکړې او په ښوونځیو کې شاملیدل: د بیلګو سلسله: د افغانستان د څیړنو او ارزونو اداره (http://www.areu.org.af/index.php?option=com_docman&task=doc_details&gid=25&Itemid=99999999, accessed October 2, 2008).
6. د پوهنې وزارت (MoE) ۲۰۰۷. د ۱۳۸٦ (۲۰۰۷) د ښوونځیو د سروې د رپوټ لنډیز. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د پوهنې وزارت. (http://www.moe.gov.af/, accessed November 9, 2008).
7. د پوهنې وزارت (MoE) ۲۰۰۸. د پوهنې وزارت په ښوونځیو یا د ښوونځیو خوا او شا بریدونه. د څارنې او ارزونې او د EMIS څانګې. د ۲۰۰۹ د جنوری په ٥ مه بیا پرې کار وشو.
8. د لوړو زده کړو وزارت (MoHE) ۲۰۰۵. ستراتیژیک پراختیایي پلان، مارچ ۲۰۰۵. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت. (http://www.mohe.gov.af/?lang=en&p=introduction, accessed January 28, 2009).
9. د لوړو زده کړو وزارت (MoHE) ۲۰۰۹a. د لوړو زده کړو د پروګرام پیاوړي کول (SHEP). د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت. (http://www.mohe.gov.af/?lang=en&p=introduction, accessed January 28, 2009).
10. د لوړو زده کړو وزارت (MoHE) 2009b. د جندر پر اساس د نوم لیکنې یا شاملیدو په اړه ارقام او معلومات . د لوړو زده کړو د پروګرام پیاوړي کول. د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت (ارقام او معلومات د ۲۰۰۹ د جون په ۲ مه نیټه ترلاسه شول)
11. جونز. ډي. ۲۰۰٦. په سختو بیرني حالتونو کې زده کړې: یوه قضیه یا بیلګه د IRCد ګانا د تعلیمي پروګرام څخه. د قانون ماسټر او په ډیپلوماسی کې تیسیس. (http://fletcher.tufts.edu/research/2006/Jones.pdf, accessed February 10, 2008).
12. د نفوس شورا. ۲۰۰۵. د نجونو د تعلیم چټک کول: د حکومتونو لپاره رومبیتوبونه. پروګرامونه: جندر کورنۍ او پراختیا. (http://www.popcouncil.org/gfd/girlseducation.html, accessed October 10, 2008).
13. ټیټجین کرین ۲۰۰۳. د بنګله دیش د لومړنیو زده کړو د جبري پروګرام. تشریحي شننه. واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک
14. یونیسکو (د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او کلتوري اداره). ۲۰۰٦. د نجونو په تعلیم باندې د ښځینه ښوونکو اغیزه: د تبلیغاتو لنډیز. بنکاک. یونیسکو. http://unesdoc.unesco.org/images/0014/001459/145990e.pdf, accessed January 9, 2009).
15. نړیوال بانک ۲۰۰۵. افغانستان: ملي بیا رغونه او د نیستی کمول – د افغانستان په راتلونکې کې د ښځو ونډه، واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک
16. نړیوال بانک. ۲۰۰۷. افغانستان: د منځنې ښوونځې د کیفیت د ښه والي پروګرام. د پروژه د معلوماتو سند. واشنګټن ډي سي: نړیوال بانک. (http://go.worldbank.org/ZY2Y28OZD0, accessed October 2, 2008).
17. د نړیوال بانک انستیتیوت (WBI). ۱۹۸٦ – د نیستمنو سره د ګډون په موخه د مرستې شاخصونه: د ښځو ګډون ته سهولت برابرول. د نړیوال بانک د ګډون د کتاب، څلورم فصل کې. واشنګټن

## د تولید او څېړولو ترتیبات

### لیکوونکي: جنیفر سولوتروف، نادیه هاشمی، استه اولیسن

په افغانستان کې په عمومي بهیر کې د جندر د شاملولو د یاددښتونو لړۍ، د نړیوال بانک د سهیلي آسیا د پاینت لرونکی پرمختیا د ټولنیز، چاپیریال او د اوبو د سرچینو د څانګې لخوا په افغانستان کې د ګټی اخستونکی هیواد د جندر اړوندو ارزونو د سپارښتونو د پروګرام (۲۰۰۷ – ۲۰۰۹) یو تولید دی، چې پکې استه اولیسن د کاري ټیم د مشری (TTL)، جنیفر سولوتروف د مرستیالې مشرې، او نادیه هاشمي د ټیم د غړې دنده لرې. دغه لړۍ د نړیوال بانک د واشنګټن ډي سي د څانګې لخوا خپره شوې او د نړیوال بانک د جندر او پراختیا د ګروپ، جندر اړوندو کاري پلانونو (GAP) د صندوقونو او د بیوزلۍ د کمولو او د اقتصادی اداري د شبکې د سخاوتمندانه مرستې له کبله منځ ته راغلې ده.

په دغه سند کې، ټولې لاس ته راوړنې، تعبیرونه او نتیجه ګیری په ټوله معنی لیکونکو پورې اړه لري او نړیوال بانک، د بانک اړوندې ادارې یا د اجرائیه هئیت غړي یا هغه هیوادونو پورې چې دوي ترې استازیتوب کوي، په هیڅ معنی تړاو نلري.